ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# دانیال په قید کښې



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Jonathan Hay
Alastair Paterson

خوښونکے: Mary-Anne S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

دانی ایل او د هغهٔ درېِ ملګری په اسرائیل کښې اوسېدل. یوه ورځ یو لوئ بادشاه د هغوئ وطن ته راغلو او ټول تکړه ځوانان ئې خپل ملک ته بوتلل. د بادشاه یو لوئ نوم وو. نبوکدنضر. او هغه د بابل په یو لرې وطن کښې اوسېدو.



هغه ځوانانو سره په بابل کښې ډېر ښهٔ سلوک وشو.با د دنيا د ټولو ملکونو نه هوښيار او تکړه ځوانان خوښ کړل. هغهٔ هغوئ د بابل په ژبه کښې د تربيت ورکولو منصوبه جوړه کړه د دې د پاره هغوئ د هغهٔ خدمت کوونکی جوړ شی. او هغهٔ سره په بادشاهۍ کولو کښې مدد وکړی.



ډوډۍ ډېره ښکلې وه، څۀ چې به بادشاه خوړل نو هغه به هغه ځوانانو هم خوړل. خو دانيال او د هغۀ ملګرو ډوډۍ خوړل نۀ غوښتل ځکه چې هغه د دروغژنو معبودانو ته وقف شوې وه. او دانيال دا وعده کړې وه چې هغه به د خپل خداۍ پاک خلاف هيڅ هم نۀ کوی. د بنی اسرائيلو خداۍ خپلو خلقو له دا حکم وراکړو چې تاسو به د بتانو او درغژنو معبودانو سره هيڅ تعلق نۀ ساتۍ.



دانيال هغه سړی ته ووئيل چې د هغۀ تربيت د پاره مقرر وو چې هغه به د بادشاه ډوډۍ نۀ خوری. کۀ بادشاه ته معلومه شوه نو هغه به ډېر خفه شی. خو خدائ دانيال د هغه سړی په نظر مقبل کړو.



هغهٔ د دانیال او د هغهٔ د ملګرو د امتحان اخستلو د پاره راجمع کړل. تر لسو ورځو پورې هغوئ سرف سبزیانې خوړلې او صرف اوبه به یې څښلې. بیا د لسو ورځو په آخر کښې دانیال او د هغهٔ ملګری د هغه ټولو ځوانانو نه زیات صحت مند ښکاربېدل چا چې د بادشاه ډوډئ خوړلې وه. نو هغوئ ته د سبزیانو او اوبو څښلو اجازت ورکړے شو.



هغه هلکانو د خدایٔ پاک عزت وکړو. او خدایٔ هم هغوئ له عزت وکړو. خدایٔ پاک هغوئ په دې څیزونو کښې علم او پوهه وکړه کومه چې هغوئ زده کړه، او دانیال سره د ټولو رویاګانو او خوبونو حکمت وو.





په بابل کښې د درېو کالو تربيت نه
پس، ټول ځوانانو د نبوکدنضر بادشاه په
وړاندې پېش کړے شول. او هغۀ په هغه
ټولو ځوانانو کښې دانيال او د هغۀ درې
ملګرى په ټولو کښې خوښ کړل. او په
حقيقت کښې بادشاه ته دا پته ولګېده چې
دانيال سره د بادشاهۍ د ټولو
هوښيارانو نه زيات
حکمت دے.



یوه شپه بادشاه ډېر بد خوب ولیدو. هغهٔ خپل ټول جادوګران، نجومیان او نور جادوګران راوغوښتل چې هغوئ راشی او بادشاه په وړاندې حاضر شی. بادشاه ووئیل چې ما یو خوب لیدلے دے. او زما روح د دې خوب په مطلب پوهېدو د پاره بې آرامه دے. هغه هوښیارانو جواب ورکړو. اے بادشاه سلامت تهٔ دې همېشه ژوندے یې. تهٔ دې خپلو خادمانو ته خوب ووایه، او مونږ به تا ته د هغې تعبیر درکړو.



بادشاه هغوئ ته په جواب کښې ووئیل! چې تاسو ما ته دا
ووایئ چې ما څۀ خوب لیدلے دے. او د هغې څۀ مطلب دے،
او کۀ چرې تاسو داسې ونۀ کړل نو زۀ به تاسو
ټکړې ټکړې کړم، او ستاسو کورونه به
وسوزولے شی. خو کۀ چرې تاسو ما
ته زما خوب او د هغې تعبیر ووایئ.
نو بادشاه ورته ووئیل، نو تاسو ته به
تحفې او انعامونه او ډېر عزت ملاو
شی. یقیناً چې
یو هوښیار کس هم
بادشاه ته د هغۀ خوب
نۀ شی بیانولے.



د بادشاه حاکمانو بادشاه ته ووئيل، په زمکه باندې داسې يو
کس هم نشته چې هغه ستا په وينا باندې عمل وکړی.
صرف معبود دا کولے شی، او هغه په زمکه باندې نۀ دے.
نو بادشاه غصه شو او حکم يې وکړو، چې د بابل ټولو
هوښيارانو تباه کړئ!



کله چې سپاهیان دانیال خواته راغلل، نو هغهٔ د بادشاه آفسر اریوک ته ووئیل، چې بادشاه ولې ټول هوښیاران هلاکوی؟ نو اریوک دانیال هغه ټول هر څهٔ ووئیل څهٔ چې شوی وو. نو دانیال بادشاه سره د ملاوېدو د پاره لاړو. او هغهٔ د بادشاه نه لږ وخت وغوښتو د دې د پاره چې هغه بادشاه ته د هغهٔ د خوب تعبیر بیان کړی.



نو بیا دانیال کور ته لاړو او هغهٔ خپلو ملګرو، حننیاه، میشائیل، او عزریاه ته ټول هر څهٔ بیان کړل. دانیال د بادشاه د خوب او د هغې د تعبیر نه نهٔ وو خبر، خو هغهٔ یو داسې کس پېژندلو چې هغهٔ ته د دې هر څهٔ په باره کښې پته وه. او هغه کس خدائ پاک دے. بیا دانیال او د هغهٔ ملګرو دعا وکړه.



نو خدایٔ دانیال ته هغه خوب او د هغې تعبیر وښودلو. دانیال آسمانی خدایٔ ته په دې وئیلو سره برکت وکړو. د خدایٔ پاک نوم دې تر آخره پورې مبارک وی. ځکه چې حکمت او قوت هغهٔ سره دی. نو دانیال فوراً بادشاه خواته لاړو او هغهٔ ته یې وئیل، په آسمان کښې یو خدایٔ دے چې هغه رازونه ښکاره کوی. او هغهٔ بادشاه ته ووئیل چې تا څهٔ خوب لیدلے دے. او د خوب تعبیر یې وکړو.



نو کله چې نبوکدنضر بادشاه خوب او د هغې تعبير واورېدو نو هغه د دانيال مخې ته ټيک شو او وې وئيل، واقعی چې ستا خدائ د ټولو معبودانو خدائ دے. د بادشاهانو خدائ دے، او هغه رازونو څرګندولو والا دے، ځکه چې تهٔ هغه راز څرګندولے شې!

نو بيا بادشاه دانيال يو عظيم کس جوړ کړو. او هغهٔ له يې ډېر زيات تحفې ورکړې. هغهٔ هغه د بابل د صوبې مشر او او د بابل د ټولو هوښيارانو سردار جوړ کړو.



# دانیال په قید کښې

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۍ

شته دے

دانیال ۱ – ۲

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"

زبور 130:119

ختم شو

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ
ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲